# د کابل اوبیزې حوزې د هایدروګرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه

څېړندوی عبدالرحمن لطیف



د کابل اوبیزې حوزې د هایدروګرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه
څېړندوی عبدالرحمن لطیف

# Investigation of the Hydrographic Characteristics of the Kabul Basin

**Researcher Abdul Rahman Latif**

2023

ISBN 978-9936-661-92-9

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکادمي

د طبیعي - تخنیکي علومو معاونیت

د ځمکپوهنې مرکز

د هایدرومیتیورولوژي انستیتوت

د طبیعي جغرافیې دیپارتمنت

# د کابل اوبیزې حوزې د هایدروګرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه

لیکوال: څېړندوی عبدالرحمن لطیف

کال 1402 لمریز

## مشخصات کتاب

................................................................................................

**د کتاب نوم:** د کابل اوبیزې حوزې د هایدروګرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه

**لیکوال:** څېړندوی عبدالرحمن لطیف

**ایډیټور او مهتمم:** څېړنوال رفیع الله نصرتی

**ناشر:** د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د علومو اکادمي

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو د اړیکې شمېره:** 0202201279 (0093)

**ISBN:** 978-9936-661-92-9

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.**

بسم الله الرحمن الرحيم

## لیکلړ

**موضوع** ................................................................ **مخونه**

د لارښود استاد نظر ................................................................ الف

تقریظ ................................................................ ج

تقریظ ................................................................ د

تقریظ ................................................................ هـ

سریزه ................................................................ 1

## لومړی څپرکی

**شالید** ........................................ 4

## دویم څپرکی

## عمومی ملعومات

2 - 1 - د سیمې طبیعي جغرافیایي ځانګړتیاوې ................................ 24

2 - 2 - د کابل اوبیزې حوزې جیولوجیکي او جیومورفولوجیکی جوړښت ............ 39

2 - 3 - د ورښت ډول، اندازه، مونسون او نورو هوایي کتلو اغیزې ................ 63

2 - 4 - د کابل په حوزه کې د هایدروګرافیکی څېړنو میتودونو تطبیق ............ 82

## درېیم څپرکی

3 - 1 - د کابل حوزې د تغذیې او تخلیې ځانګړتیاوې ................................ 85

3 -2- د کابل حوزې رژیمونه (کونړ، الیشنګ، الینګار، پنجشیر، غوربند او لوګر سیندونه) ..........91

3 - 3 - د سیمې پر آب هوا باندې د دغې حوزې اغېزې ................................ 117

3 - 4 - په کرنه، مالداری او د وګړو په معیشت باندې د دغې حوزې اغېزې ........... 123

## څلورم څپرکی

## مدیریت او ګټه اخیستنه

4 -1 - د کرنې او بایرو ځمکو په اړوند ................................ 133

4 - 2 - د ایروژن او چاپېریال ساتنې په اړوند ................................ 144

4 - 3 - انرژیتیکي پوتانسیل ................................ 159

4 - 4 - د سېلابونو مدیریت ........................................................ 174

## پينځم ځپرکی

## اقتصادي - تخنيکي مؤثريتونه

5 -1 - د وریانتونو مقایسه ........................................................ 184
5 - 2 - تر لاسه کېدونکې ګټې او محاسبې ........................................................ 188
پایلې ........................................................ 191
وړاندیزونه........................................................ 193
مآخذ ........................................................ 195
ضمیمه ........................................................ 204

# د لاربنود استاد نظر

د کابل اوبيزې حوزې د هايدروګرافيکي ځانګړتياوو څېړنه تر سرليک لاندې علمی - څېړنيزه پروژه چې پنځه کاله وړاندې ښـــاغلي څېړوندی عبدالرحمن لطيف ته زما تر لاربښونې لاندې د څېړنوال علمی رتبې ته د ترفيع له پاره د علمی شورا په تأييد او منلو، د څېړنو د موضوعاتو او عناوينو لړليک سره، سپارله شوې وه.

د کابل د سيند او مر سيتالانو لويه حوزه چې د کابل په شمول د پروان، پنجـشير، کاپيـسا، لغمان، ننګرهار، لوګر، وردک، کنړ، نور ستان، د ولايتونو د اور ښتونو اوبه په کې راټولېږي او د ننګرهار په ډګه کې د ډيورنډ له فرضي کرښـــې تېرېږي او د اندوس حوزې ته رسېږي.

دغه اوبيزه حوزه ښـه ډګ او ځپانده سـيندونه لري، خو يوزاې د سـيندونو په غاړو کې په عنعنوی پخوانيو لښـــتيو او کړ وړو تنګو ارتو ويالو چې ثاتب ظرفيت هم نلري، کرنيزې ځمکې خړوبېږي. زياتره ولسي لويې ويالې د ا سلام له راتګ څخه مخکې جوړې شوي او تر اوړسـه يې نومونه د بومي خلکو په ژبه يادېږي. د امير حيب الله خان په وخت کې د جبل السراج د برېښنا د توليد يو توربين چې فيلانو له برتانوي هند څخه راوړی و، لګول شـوی دی او د محمد ظاهر شـاه په زمانه کې د کابل په دره کې د قرغې پر بند سربېره، د ماهيپر، نغلو، سروبي او درونټې د برېښـــنا د توليد فابريکې احداث شـــوي دي. خو له دې جملې څخه د درونټې بند د برېـښنا په توليد سربېره، د ننګرهار د ناوې د پراختيا او خړوبولو د پروژې يو عصري لوی کانال ته اوبه وړکړې دي او په دغو وروستيو کلونو کې د جاپان د دولت په مرســـته د کنړ له ســـيند څخه د مرواريد په نوم يو کانال د ننګرهار د ښېوې په ولسوالی کې کيندل شوې دي. د لوګر د کج آب بند، د ګټ پروژه، د شاه توت بند، د شاه و عروس بند، او د نورو بندونو پروژې لا تر او سه د کاغذ او نقـشو په مخ پاتې دي او د حوزې له ټولو اوبو څخه تر اوسه منا سبه ګټه نه ده اخيستل شوې او مونږ هم ډېره اړتيا لرو چې ډېرې پروژې علمي شي او د خلکو ژوند ښه شي، د سيند په غاړه تږي ناست يو.

رســـالې د ســـيمې له عيني وضـــعيت څخه پرده پورته کړې ده او د راتلونکو تولو اقتصادي پراختيايي پروژو د عملي کولو لارې روښانه کوي.

د رسالې په لومړي څپرکي کې د موضوع شالید بحث شوی، په دویم څپرکي کې د حوزې په اړه تولیز معلومات راغلي دي او په درېیم څپرکي کې د ریچارج او دسـچارج ځانګړتیاوې رژیمونه او په اقلیم او کرنه کې د حوزې اغېزې بیان شـوي دي، په څلورم څپرکي کې د اوبو مدیریت او ګټه اخیستنه او په پنځم څپرکي کې د پروژې اقتصادي – تنیکي آغېزمنتیاوې بحث شوي دي

زه څېړنبوه عبدالرئیس الیني د لارښـود استاد په توګه رسـاله د پروژې د ترکیب له مخې پوره ګنم چې د څېړوندی له علمي رتې څخه د څېړنوال علمی رتبې ته د ترفیع له پاره کافی ده، وړاندیز کوم چې رساله له دفاع څخه وروسته چاپ او خپره شی او په پای کې ښاغلي عبدالرحمن لطیف ته نورې ډېرې بریاوې له لوی خدای څخه غواړم.

**په درنښت**

**څېړنپوه دیپلوم انجنیر عبدالرئیس الیني**

# تقریظ

دغه علمي - تحقیقي رساله چې د کابل اوبیزې حوزې د هایدروگرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه تر سرلیک لاندې د ښــاغلي عبدالرحمن لطیف لخوا د څېړوندی علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره لیکله شــوې ده، ما تر پایه پورې په ډېر غور او دقت سره ولوســته، زما ټولې مشورې او لارښوونې نومورې په ورین تندي ومنلې او په رساله کې یې اړین اصلاحات راوستل.

رســاله پنځه څپرکي او (205) مخونه لري، په رســاله کې د ډېرو نورو معتبرو داخلي او بهرنیو علمي سرچینو څخه ګټه پورته شــوې ده. په دغه اثر کې د څېړنیزو موضـوعاتو د ښــې شــننې او ارزونې په موخه نوي ارقام او دیتاوې، څېړنیز راپورونه، (66) جغرافیایي نقشـــې او ګرافونه او (37) جدولونه په ډېر مهارت او ځېرکتیا سره ځای په ځای شــوي دي. د څېړنې پر مهال د څېړنو ټولو معیارونو او میتودونو ته په ښه شان سره پاملرنه شوې ده.

د رســـالې متن په ډېره ســـاده او روانه ملي پښـــتو ژبه باندې لیکل شـــوی دی چې لوستونکي کولای شي په آسانۍ سره ورڅخه ګټه پورته کړي.

د رسالې په پای کې د شویو څېړنو پایلې راغلي او ترڅنګ یې له یادې حوزې څخه د ښې ګټې اخیستنې له پاره یو شمېر مهم او اړین وړاندیزونه مطرح شوي دي. بې له شکه د دغو وړاندیزونو په عملي کولو سره نه یوازې چې په ســـیمه کې زیات مثبت او اقتصـــادي بدلونونه راځي، بلکې د نړۍ په ســـطحه د راروانو اقلیمي بدلونونو او وچکالیو له ناوړه اغېزو څخه تر ډېره بربېده مخنیوی کېږي.

زه په خپل وار سره د یادې رسالې لیکل د هېواد په اوسني وضعیت کې په خا صه توګه د روانو اوبو او ډکو سـیندونو په اړه فوق العاده علمي ارزښـتناکه اثر ګڼم او تر سره شـشـوې څېړنه دکیفیت او کمیت له مخې د ترفیع له پاره کافي بولم او سپارښتنه کوم چې ښاغلي عبدالرحمن لطیف ته دې د څېړنوال علمي رتبه ورکړل شي او یاده رساله دې چاپ ته وسپارله شي.

په پاي کې ښاغلي لطیف ته د لوی څښتن تعالی څخه د اوږد عمر او د لا زیاتو علمي - څېړنیزو لاسته راوړنو هیله مند یم.

**په درنښت**

**پوهاند عبدالغیاث صافي**

**د کابل پوهنتون د ځمکپوهنې د پوهنځي رئیس**

# تقریظ

د کابل اوبیزې حوزې د هایدروگرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه تر سرلیک لاندې علمي - تحقیقي رساله چې په ساده او روانه پښتو ژبه لیکله شوې ده، پنځه څپرکي او (205) مخونه لري.

رساله په (66) نقشو او ګرافونه او (37) جدولونو باندې مزینه شوې ده. د څېړنې پر مهال له بېلابېلو میتودونو څخه ګټه پورته شوې او تر ډېره کوښښ شوی چې له نویو ارقامو او دیتاوو څخه ګټه واخیستله شي.

د رسالې په آخر کې څېړونکي زیار ایستلی چې له څېړنو څخه ښې پایلې تر لاسه کړي او د دغو څېړنو په رڼا کې ډېر مهم او مشخص وړاندیزونه مطرح کړي او د هغو اقتصادي اغېزې یې بیان کړي.

یاده رساله چې کله ما ته د تقریظ له پاره و سپارله شوه په ډېر غور او دقت سره مې تر پایه ولوسته، کومې ستونزې او نیمګړتیاوې چې په کې موجودې وې، هغه مې ټول په نښه کړل چې د نوموړي لخوا په ډېر دقت او اخلاص سره اصلاح او په رساله کې ځای په ځای شول.

د رسالې اصلي موخه په کابل اوبیزه حوزه کې له روانو اوبو څخه اقتصادي ګټه اخېستنه ده. ښکاره خبره ده چې د کابل اوبیزه حوزه د هېواد په سطحه با اهمیته اوبیزه حوزه ده چې په راتلونکي کې کېدای شي په یاده حوزه کې د روانو اوبو په مدیریت او سمبا سره کرنه، مالداری او د برېښنا تولید پراختیا ومومي او د هېواد اقتصادي ستونزې پرې اوارې شي.

زه دغه څېړنه مثبته ارزیابي کوم، بلکې یاده رساله د علومو اکادمۍ د ترفیعاتي قوانینو او لوایحو مطابق د ترفیع له پاره کافي ګڼم او وړاندیز کوم چې نوموړي ته دې د څېړنوال علمي رتبه ورکړل شي او یاده رساله دې د اداري پړاونو له بشپړېدو وروسته چاپ ته وسپارله شي.

په پای کې ښاغلي عبدالرحمن لطیف ته د خدای تعالی «ج» له در بار څخه ښه ژوند او د نورو بریاوو هیله مند یم.

**په درنښت**

**پوهاند لطف الله صافي**

# تقریظ

د کابل د اوبیزې حوزې د هایدروگرافیکي ځانګړتیاوو څېړنه تر سرلیک لاندې چې کومه رساله لیکلې شوې ده، پنځه څپرکي او (205) مخونه لري.

د رسالې په لومړي څپرکي کې د کابل د اوبیزې حوزې په اړه معاصر او تاریخي لیکنو او یادښتونو ته مراجعه شوې او په رساله کې ځای په ځای شوي دي.

په دویم څپرکي کې د سیمې په هکله جغرافیایي، جیولوجیکي، جیومورلوجیکي، د اورښتونو او د څېړنو د میتودونو په اړه مسایل تر بحث لاندې نیول شوي دي.

د رسالې په درېیم څپرکي کې د کابل د اوبیزې حوزې د تغذیې او تخلیې ځانګړتیاوې، د لویو سیندونو رژیمونه، د سیمې په آب و هوا، کرنه، مالدارۍ او د وګړو په معیشت باندې د یادې حوزې اغېزې او اهمیت څېړل شوي دي.

په څلورم څپرکي کې د کابل له اوبیزې حوزې څخه د ښې ګټې اخیستنې په موخه د کرنې او بایرو ځمکو، د ایروژن او چاپیریال ساتنې، د انرژیتیکي پتانسیل او د سېلابونو پر مدیریت باندې بحث او څېړنې تر سره شوي دي.

د رسالې پنځم څپرکي کې د تر سره شوو څېړنو پایلې راځي چې د دغو پایلو په رڼا کې یو شمېر مهم او اړین وړاندیزونه بیان شوي دي.

د یادولو وړ ده چې رساله (66) نقشې او ګرافونه او (37) جدولونه لري او د بشپړولو له پاره یې له (92) علمي څېړنېزو آثارو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د رسالې ښه والی په دې کې دی چې په ډېره ساده او روانه ژبه لیکله شوې ده او په راتلونکو کې د نورو څېړونکو له پاره یو ګټور اثر ګڼل کېږي. زه دغه څېړنه د څېړنوال علمي رتبې ته د نوموړي د ترفیع له پاره کافي ګڼم او سپارښتنه کوم چې ښاغلي عبدالرحمن لطیف ته دې د څېړنوال علمي رتبه ورکړل شي او دغه رساله دې چاپ شي.

په پای کې نوموړي ته له لوی خدای تعالی (ج) څخه د روغ صحت او لا زیاتو لاسته راوړنو هیله کوم .

**په درنښت**

**پوهاند دوکتور محمد قاسم صدیقي**

**د کابل پولي تخنیک د پوهنتون استاذ**

# سریزه

دغه عـــــلمي - څېړنیزه رســاله چې **د کابل اوبیزې حوزې د هایدروگرافیکي ځانگړتیاوو څېړنه** تر سرلیک لاندې لیکل شــوې ده، موخه یې د یادې حوزې د هایدروگرافیکي ځانگړتیاوو پېژندل دي. د اوبیزو حوزو د هایدروگرافیکي ځانگړتیاوو پېژندل موږ سره مرســته کوي چې په راتلونکو وختونو کې له یادې حوزې څخه د انرژۍ،کرنې، مالدارۍ، بڼوالۍ او صـنعت په برخو کې په ښـه شـان گټه پورته کړو. د کورنیو او نړیوالو څېړنو له پایلو داسې برېښي چې افغانستان د روانو اوبو له نظره شتمن او بډایه هېواد دی؛ اما د روانو اوبو د نه مدیریت او ســپما له پلوه اوســمهال څنگه چې لازمه ده، د اوبو له سرچینو څخه ســمه گټه نه اخیســتل کېږي چې دا ډول وضـعیت د هېواد په زیان تمامېږي.له بلې خوا، په هېواد کې د وگړو شمېر ورځ تر بلې زیاتېږي چې ورسره د اوبو لگښـت هم زیات شـوی او د هېواد سـطحي او تر ځمکې لاندې اوبو زېرمو سـطحه ټیټه شـوې ده، د بېلگې په ډول کېدای شي د کابل ښـار یادونه وکړو؛ ځکه یاد ښارکې مېشت وگړي پاکو او صحي اوبو ته لاسرسی نه لري او له سختو ستونزو سره مخ دي.

په هېواد کې د وگړو له ډېرېدو وروســـته، بله مهمه موضـــوع، په نړۍ کې اقلیمي بدلونونه دي چې له امله یې په هرو پینځو، لســو او دېرشـــو کلونو کې هېواد له پراخو او پرلپســې وچکالیو سره مخ کېږي. د ځمکې د کرې د هوا د تودوخې درجې د لوړوالي او د اقـلیمي بدلونونو په نتیجه کې د ورښتونو په اندازه او فصل کې خورا ډېر توپیر رامنځته شــوی دی؛ د هېواد په لوړو څوکو کې د همېشــنیو واورو زېرمې کمې شــوي، کنگلونه ویلې شـــوي او نباتي پوښـــښ له منځه تللی چې په پایله کې د اوبو سرچینې له ســـتر گواښ او ننگونو سره مخامخ شـوي دي. د پورتنیو ټولو ویل شـوو فرصـتونو او سـتونزو په نظر کې نیولو سره لازمه ده چې په اوبیزو حوزو کې د روانو اوبو په هکله نوې او هر اړخیزې څېړنې او شـــننې ترسره شي چې هېواد د انرژۍ د تولید، د کرنې د ودې او انکشاف له پلوه په ځان بسیا شي او همدغه راز د اقلیمي بدلونونو په وړاندې چمتوالی ولري چې له ناوړه اغېزو یې مخنیوی وکړي چې د همدې موخې پر بنسټ، د افغانستان

د علومو اکادمي د طبیعي علومو برخې د ځمکپوهنې مرکز د خپلو اوږدمهالو پلانونو او څېړنو په رڼا کې یاده پروژه د څېړنې په موخه ما ته راوســپارله، دغه رســاله په پینځو څپرکو کې لیکل شوی چې دلته په لنډ ډول هر څپرکی په جلا ډول پېژندل کېږي.

لومړي څپرکي کې د کابل حوزې په اړه د کورنیو او بهرنیو متخصصینو په مرسته په تر سره شوو څېړنو بحث شوی، د هغو پر پایلو او لاسته راوړنو رڼا اچول شوې او ورسره د سیندونو په نومولو کې چې کوم طبیعي او تاریخي لاملونه شامل دي، په گوته شوي دي.

په دویم څپرکي کې بیا د ســیندونو، ها یدورگرافیکي شــبکو، د کا بل حوزې جغرافیایي موقعیت، د ورښــتونو ډول او اندازه، هوایي کتلې، د ســیمې جیولوجیکي او جیومورفولوجیکي وضعیت په اړه بحث شوی او داســې کوښښ شوی چې د یادو مسایلو ځانگړنې په گوته شي چې موږ د کابل حوزې له طبیعي حالت سره په ډېر ښــه شــان آشنایي پیدا کړو چې نورو څېړنو ته لاره اواره شي.

په درېیم څپرکي کې بیا د دویم څپرکي د څېړل شــوو موضــوعگانو په اړه د کابل حوزې د تخلیې او تغذیې ځانگړتیاوې، رژیمونه، د سیمې په آب و هوا، کرنه، مالدارۍ او د وگړو په معیشت باندې د دغې حوزې اغېزې څېړل شوي او د انتخاب شوو سیندونو د رژیمونو له مطالعې دا ثابته شــوه چې موږ کولای شــو په یاده حوزه کې ډېرې انکشــافي پروژې پلي کړو چې دا په خپل وار سره د کابل اوبیزې حوزې له ښــو هایدروگرافیکي ځانگړنو څخه شمېرل کېږي.

په څلورم څپرکي کې د اوبیزې انرژۍ، د بکرو او بایرو ځمکو په پراختیا، د خاورو پر ایرژون او د ســېلابونو د مخنیوي په لارو چارو باندې څېړنه شــوې ده، ســتونزې یې په نخښــه شــوي او د حل لارې چارې یې وړاندې شــوي دي. داســې ښــکاري چې په دغه حوزه کې د انرژۍ د تولید ډېر لوی پوتانســیل موجود دی چې باید ورنه گټه واخیســتل شي؛ نو په همدې خاطر یو شــمېر طرحې او وړاندیزونه وړاندې شــوي چې موږ وکولای شو په کور دننه انرژي تولید کړو.

په پینځم څپرکي کې بیا له روانو اوبو څخه د ســمې گټې اخیســتنې په موخه د ځمکو د انکشاف او پراختیا لپاره پر یو شمېر نویو طرحو او وړاندیزونو بحث شوی چې د

کانالونو او ویالو تر څنګ، په اوبیزو شــبکو کې له پایپي شــبکو څخه ګټه اخیســتل په خاصـه توګه په غرنیو سـیمو او هغو ځایونو کې چې د کانالونو او ویالوکیندلو امکانات نه وي، ښه بلل شوی دی او رساله د ځینو محاسباتو لاسته راوړنو، وړاندیزونو او ضمیمې په راوړلو سره پای ته رسېږي.

په نوموړي رساله کې څېړنپوه دیپلوم انجنیر عبدالرییس الیني زما د لارښود استاد په توګه له ما سره ډېره مرسـته کړې، د رســالې هره برخه د هغه د لارښــوونو او ځانګړې پاملرنې لاندې بشــپړه شــوې، زه له محترم اســتاذ څخه د زړه له تله مننه کوم چې زما لارښــونه یې وکړه. همداســـې، د یادونې وړ ده چې د کابل پوهنتون د ځمکپوهنې پوهنځي د هایدرومیتیورولوژۍ دیپارتمنت، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، په ځانګړې توګه د اوبو له معینت څخه ډېره مننه کوم چې ما سره یې د ارقـــــامو په شریک کولو کې ډېره مرسته وکړه. په پای کې له خپلو ټولو ګرانو همکارانو څخه مننه کوم چې تل یې ما ته د پروژې د لیکلو په بهیر کې ښې مشورې راکړې دي.